# د زده کولو او ښودلو

# د حلقو جدول

## د مور پلار درې حقونه

## (قسط:3)

03 جولائی، 2025



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: 5 منټه (2): دُعا يادول: 5 منټه

(3): [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، ټول وخت: 15 منټه-

نن به د زده کولو او ښودلو پهٔ **حلقو** کښې **د مور او پلار درې حقونه (قسط:3)** ښودلے شي او **د قرض د ادا کيدلو دُعا** به يادولے شي- پهٔ اخره کښې به د نيک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کيږي - اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم!

## د دُرُود شريف فضيلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** څوک چې پهٔ ما باندې يو ځل دُرُودِ پاک ولولي الله پاک پهٔ هغهٔ باندې 10 رحمتونه راليږي او د هغهٔ پهٔ اعمال نامه کښې 10 نيکئ ليکي- [1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مور پلار درې حقونه (قسط:3)

## آيت مبارک

الله پاک فرمائيلي دي:

وَ وَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا ؕ وَ اِنْ جَاهَدٰكَ لِتُشْرِكَ بِیْ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ؕ (پاره:20، سورهٔ عنکبوت:8)

**ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** او مونږه (هر) انسان ته خپل مور او پلار سره د ښهٔ سلوک تاکيد وکړو، او (اے بنده) که هغوئي پهٔ تا کوشش وکړي چې تهٔ څوک زما شريک وګرځوې د کوم چې تا ته عِلم نشته نو د هغوئي خبره مهٔ منه-

---

[1] ...ترمذی، ابواب الوتر، باب فی فضل الصلاة علی النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:144، حديث:174-

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

کوم کَس چې د خپل مور او پلار د وفات نه پس ❁ د هغوئي قَسم پوره کړي ❁ د هغوئي قرض ورکړي ❁ د چا مور او پلار ته په ردو بدو وئيلو په هغوئي [خپل مور او پلار] ته ردې بدې اونهٔ وائي، هغهٔ به د مور او پلار فرمانبردار ليکلے شي، اګر که د هغوئي په ژوندانهٔ يــې فرمانبرداري نهٔ کوله او څوک چې (د مور او پلار د وفات نه پس) ❁ د هغوئي قَسم پوره نهٔ کړي ❁ د هغوئي قرض ورنـکړي ❁ د نورو مور او پلار ته په ردو بدو وئيلو په هغوئي [خپل مور او پلار] ته ردې بدې ووائي، هغهٔ د مور او پلار نافرمانه ليکلے کيږي، اګر که د هغوئي په ژوندانه فرمانبرداره وو-[1]

## د مور او پلار درې حقونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** الله او رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ ته د مور او پلار سره د نیکئ او د ښیګړې کولو حکم کړے دے- دا جنَّت ته بوتلونکے عمل دے- د مور او پلار ډير حقونه دي، په کومو کښې چې 6 مونږه مخکښې زده کړي وو او درې به نن زده کوو- راځئ چې وړومبے د زده کړے شوو حقونو دوهرائي وکړو: (1): اطاعت او تابعداري (2): مور او پلار راضي ساتل (3): د مور او پلار خدمت کول- (4): ادب او احترام کول (5): د مور او پلار د پاره دُعا کول (6): د مور او پلار د متعلقينو سره صِله رحمي کول-

نور درې حقونه کوم چې نن زده کول دي:

**وړومبے حق:** مور او پلار ته ردې بدې نهٔ وئيل

**وضاحت:** مور او پلار ته ردې بدې وئيل ګناه کبيره ده-[2] مور او پلار ته د ردو بدو وئيلو يو څو صورتونه (1): مَعَاذَالله! په خپله خُله باندې مور او پلار ته ردې بدې وئيل

---

[1] ....معجم اوسط، جلد:3، صفحه:381، حديث:4891۔

[2] ....لمعات التنقيح، کتاب الآداب، باب البر والصلة، جلد:8، صفحه:211، تحت الحديث:4916، ملخصًا۔

❁ پهٔ هغوئي کښې عیبونه لټول ❁ غیبتونه يې کول ❁ کنځلې ورته کول وغیره- د معراج پهٔ شپه د نیبانو سردار، د رسولانو سالار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ دوزخ کښې ځینې داسې خلق ولیدل، کوم چې د وَنو پهٔ ښاخونو پسې زوړند وو- نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اے جبریله! دا څوک دي؟ عرض یې وکړو: دا هغه خلق دي کومو چې به پهٔ دُنیا کښې خپل مور پلار ته کنځلې کولې (ردې بدې به یې وئیلې)- [1] (2): داسې کار کول چې خلق ستاسو مور او پلار ته ردې بدې ووائي ❁ د هغوئي بے عزتي وکړي وغیره- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د بنده خپل مور او پلار ته کنځلې کول پهٔ کبیره ګناهونو کښې دي- عرض وکړے شو: یا رسولَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آیا څوک خپل مور او پلار ته هم کنځلې کولے شي؟ اوئې فرمائیل: آؤ! دا د چا پلار ته کنځلې وکړي نو هغهٔ د دهٔ پلار ته کنځلې وکړي او دا د چا مور ته کنځلې وکړي نو هغهٔ د دهٔ مور ته کنځلې وکړي- [2]

**دویم حق:** د مور او پلار د وفات کیدو نه پس د هغوئي د کفن دفن وغیره انتظام کول

**وضاحت:** خُدائے دې نهٔ کړي که د چا پهٔ مور او پلار کښې کوم یو وفات شي نو د هغوئي د ❁ کفن ❁ د جنازې او ❁ د دفن کولو انتظام دې وکړے شي، پهٔ دې ټولو کارونو کښې دې د سُنَّتو او مستحباتو خیال وساتلے شي چې مړي ته د دې سُنَّتو او مستحباتو برکتونه حاصل شي، بهتره دا ده چې اولاد دا کار پخپله وکړي، که پهٔ اولاد کښې چا له دا کار نهٔ ورځي نو که څوک نیک پرهیزګاره ګس یې وکړي نو هم پکښې څه باک نشته- یاد ساتئ چې پهٔ دې ټولو کارونو کښې دې تادي وکړے شي بغیر د څهٔ وجهې د لم لیټ نه کار اخستل سخت منع دي، پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: چې کله پهٔ تاسو کښې څوک مړ شي نو هغهٔ مهٔ ایساروئ او زر یې دفن کړئ- [3]

---

1 .... الکبائر لذهبی، الکبیرة الثامن عقوعق الوالدین، صفحه:31-

2 .... مسلم، کتاب الایمان، باب بیان الکبائر و اکبر ها، صفحه:53، حدیث:146-

3 .... معجم کبیر، جلد:12، صفه:444، حدیث:13613-

**دريم حق:** د مور او پلار قرض ادا کول

**وضاحت:** که پهٔ مور او پلار باندې قرض وي نو د هغوئي پهٔ ژوندانه کښې هم د هغوئي سره پهٔ شريکه قرض ادا کول او که مور او پلار وفات شي نو د هغوئي پهٔ قرض ورکولو کښې چې څومره تادي کيدے شي تادي کول- زما خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د مسلمان روح د خپل قرض پهٔ وجه ترهٰغه وخته پورې مُعَلق وي (يعني جنَّت ته د تللو نه منع کولے شي)، ترڅو پورې چې د هغهٔ قرض ادا نکړے شي-[1]

## دوهرائي

نن مونږه د مور او پلار درې حقونه زده کړل، دا پهٔ ذِهن کښې کښينوئ! **(1):** مور او پلار ته ردې بدې نهٔ وئيل **(2):** د مور او پلار د وفات نه پس د هغوئي د کفن دفن وغيره انتظام کول **(3):** د مور او پلار قرض ادا کول-

## د ښودلو او زده کولو پهٔ حلقو کښې يادولو والا دُعا

### د قرض د ادا کيدلو دُعا

اَللّٰھُمَّ اکْفِنِیْ بِحَلَالِکَ عَنْ حَرَامِکَ وَاَغْنِنِیْ بِفَضْلِکَ عَمَّنْ سِوَاکَ

**ترجمه:** اے الله پاکه! ما ته حلال رزق را عطا کړې او د حرامو نه مې بچ کړې او پهٔ خپل فضل او کرم سرې مې د ځان نه علاوه د غيرو نه بے نيازه کړې-[2]

---

[1] .... سنن ترمذی، ابواب الجنائز، باب ماجاء عن النبی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم انه قال .... الخ، صفحه:280، حديث:1078-

[2] .... مستدرک، کتاب الدعاء والتکبير ...الخ، باب دعاء دخول السوق، جلد:2، صفحه:230 حديث:2016-

# د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

## د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نـمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوْرَةُالْمُلْك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نـمونځ نه پس مو آية الـکرسي، تسبيحِ فاطمه، سُورَةالِاخلاص لوستلے؟ (6): آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلې يا اوريدلې؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلې؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلې؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آيا د فضول نظر نه پۀ بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکـتبة الـمدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا پۀ تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آيا پۀ مکـتبة الـمدينه بالغان کښې مو لوستلي، يا مو ښودلي؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پۀ دوو ګينټو کښې کور ته رسيدلي يئ؟ (20) : آيا دوه ګينټې مو پۀ ديني کارونو باندې لګولي؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا پۀ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو پۀ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آيا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آيا

څۀ نا څۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةِ الليل مو ادا کړې؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او څاخت نـمونځ مو کړے؟ (35):آيا د مازديګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا کړي؟ (36): آيا پۀ 12 ديني کارونو کښې مو د يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آيا پۀ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئيلي کوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آيا د صفايۍ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو پۀ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څۀ نا څۀ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو پۀ سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

❁ پۀ ليکلو خبرې کول 12 کرته ❁ پۀ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ❁ پۀ سترګو کښې د سترګو اچولو بغير خبرې 12 کرته-

# هفته وار 9 نیک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا په هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعْتِکاف مو کړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زپلې تپوس يا غم خورې او د چا په وفات کيدو مو تعزيت [لاس نيوه] کړې؟ (62): آيا په هفته کښې مو په يوه ورځ کښې روژه نيولې؟ (63): آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اوريدلې؟ (64): آيا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آيا محکښې راتلونکي او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي وروڼو مو د ديني ماحول سره تړون پيدا کړو؟